مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر اوومه | ۶۴۱مه ګڼه

# امریکا او د ملي مصالحې عالي شورا؛

## خلیلزاد: دغه شورا د واک د وېش او دایمي سولې راوستو با صلاحیته بنسټ دی





ولایت

۴ مخ

## زابل

د دې ولایت د پوهنې ریاست د معلوماتو له مخې، په دې ولایت کې ټول ۲۳٦ ښوونځي دي، چې ۹۵ یې پرانیستي او ٤٥ زره زده کوونکي په کې زده کړې کوي او نور یې د ناامنیو له امله تړل شوي دي.



## کرنې ریاست: روان کال د هلمند د پنبې په حاصلاتو کې ۲۰ سلنه زیاتوالی راغلی



د هلمند د کرنې ریاست مسوولین وایي، روان کال د دغه ولایت د پنبې په حاصلاتو کې ۲۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د یاد ولایت د کرنې او مالدارۍ رییس زلمی الکو زیاتوي، چې سږ کال په دغه ولایت کې پر ۱۵۹۱۰ هکتاره ځمکه پنبه کرل شوې وه چې په وینا یې، ٦۵زره مېټریک ټنه حاصلات ورڅخه تر لاسه شوي دي. نوموړی زیاتوي چې تېر کال په دغه ولایت کې ۵۵زره مېټریک ټنه پنبه تولید شوې وه. د هغه په وینا: «په دغه ولایت کې د پنبې د کرکېلې د ودې او پراختیا لپاره پر بزګرانو د پنبې اصلاح شوي تخمونه، کېمیاوي سرې، داړتیا وړ درمل او نور اړین توکي وېشل شوي او ترڅنګ یې بزګرانو او ځمکوالو ته د پنبې نندارېزې قطعې هم جوړې شوې دي».
د یادونې ده چې د هلمند ولایت پنبه، چې پخوا یې د سپینو زرو په نوم شهرت درلود، د یاد ولایت د بُست تصدۍ په فابریکه کې پروسس کېږي.

د مصالحې عالي شورا د ولسمشر غني لاسونه ور تړي؟

۲ مخ

روز جهانی معلولین و وضعیت اشخاص دارای معلولیت در افغانستان

۲ مخ

روند صلح افغانستان؛ در سه ماه مذاکرات دوحه چه گذشت؟

۳ مخ

## عبدالله: د سولې روان بهیر په یو شخص او یوه ادرس پورې تړاو نه لري

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله وایي چې سوله په یو شخص او یا یو ادرس پورې تړلې نه ده. نوموړي دا څرګندونې د یو شمېر ولایتونو له قومي مخورو سره په لیدنه کې کړې دي.
د یادې شورا د معلوماتو له مخې، په دغه لیدنه کې قومي مخورو د سولې له پروسې بشپړ ملاتړ اعلان کړی او زیاته کړې یې ده چې له دې بهیر سره باید سلیقوي چلن ونه شي. سرچینه کاږي، یادو مشرانو د خپلو خبرو پر دوام په هېواد کې د تاوتریخوالي پر زیاتوالي اندېښنه څرګنده کړې او هیله یې ښودلې چې تر هر څه ژر باید د تاوتریخوالي کچه راټیټه شي. د سرچینې په خبره، عبدالله یادو مشرانو ته ویلي چې د ملي مصالحې د عالي شورا بنسټ ملي اهداف، د سولې پروسې په اړه د ملي او سیمه ییز ملاتړ را جلبول دي او ډاډ یې ورکړی چې دوی به ټولې چارې د افغانستان له خلکو سره په مشوره ترسره کوي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې پر ارګ نیوکه کېده چې د سولې روان بهیر یې انحصار کړی او د سولې اړوند پرېکړې له مشرانو او سیاسیونو سره له مشورې پرته په ارګ کې کېږي. خو ولسمشرۍ ماڼۍ بیا دا تورونه نه مني او وایي چې په د سولې په روانه پروسه کې له ټولو اړخونو سره مشورې کېږي.

## له طالبانو سره تر جوړجاړي وروسته به یو ټولشموله نظام رامنځته شي



۵ مخ

وزارت صحت عامه:

## واقعات مثبت کرونا در افغانستان نزدیک به ٤٨ هزار رسید



وزارت صحت عامه، از ثبت ۲٦۰ واقعهٔ جدید بیماری کرونا در یک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گوید که تا کنون در افغانستان، تعداد واقعات مثبت ثبت شدهٔ این ویروس، به ٤۷۹۰۱ واقعه رسیده است. به اساس معلومات این وزارت، در ۲۴ ساعت گذشته، ١٤۹۵ نمونهٔ مشکوک ویروس کرونا در لابراتوارهای کشور مورد آزمایش قرار گرفته، که از این میان ۲٦۰ واقعهٔ آن مثبت تشخیص شده است. منبع افزوده است که با ثبت این آمار، تعداد مبتلایان به این ویروس در افغانستان، تا کنون به ٤۷۹۰۱ تن افزایش یافته است.
در خبرنامهٔ این وزارت آمده است که از مجموع تعداد ثبت شده، ٦۳ تن در کابل، ٦۰ در خوست، ٤٨ در تخار، ۳۲ در هرات، ۱۹ در ننگرهار، نه در بغلان، شش-شش در کندهار، لوگر، میدان وردک و نورستان، چهار در دایکندی و یک تن هم در ولایت لغمان به ویروس کرونا مبتلا شده اند.
براساس معلومات خبرنامه، در یک شبانه روز گذشته، ۲۹۷ فرد مبتلا به ویروس کرونا، دوباره صحت یاب شده و شمار مجموعی بهبود یافتگان این ویروس، به ۳۷۷۸۲ نفر می‌رسد.
همچنان وزارت صحت گفته است که در ٢٤ ساعت گذشته، ده تن به اثر ابتلا به (کوید- ۱۹) فوت کرده و از آغاز شیوع ویروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر این بیماری، به ۱۸۷۵ نفر رسیده است.
از سوی دیگر، مسئولان وزارت صحت عامه، از سیر صعودی ویروس کرونا در کشور خبر داده اند. به گفتهٔ آنها ویروس کرونا نسبت به هفته های گذشته، در کشور سیر صعودی داشته و واقعات مثبت افزایش یافته است.



## سرلیکنه

# د مصالحې عالي شورا د ولسمشر غني لاسونه ور تړي؟

د مصالحې د عالي شورا د رهبرۍ کمېټې له لومړنۍ غونډې وروسته د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي د دې چارې د هرکلي ترخنګ ویلي، چې دا کمېټه به د سولې د تړون د شرطونو، د واک د وېش او د اوربند په تړاو یو واکمن بنسټ وي. ګڼو نورو اړخونو هم د دې شورا د جوړېدو هرکلی کړی او پر دې یې خوښي ښودلې چې د سولې په تړاو یوه اجماع رامنځته شوې ده.
د مصالحې د عالي شورا د رهبرۍ له جوړېدو سره سم د امریکا له خوا د پیغام ورکول چې دا کمېټه به د سولې په تړاو په مهمو مسایلو کې واکمن بنسټ وي، په ښکاره د سولې په چاره کې د ولسمشر غني د واکونو د کمولو هڅه ده. تر اوسه پورې د سولې په تړاو د افغانستان د حکومت دریځ یوازې د ولسمشر غني په لاس کې او بدلون پکې د امریکا له مخامخ او سخت فشار وروسته راغلی دی. که څه هم ولسمشر غني له عبدالله سره ژمنه کړې وه چې د مصالحې عالی شورا به جوړوي، خو دا شورا په واضح ډول د دې لپاره ځنډول کېده چې د سولې په تړاو د تصمیم نیونې واک یوازې له ولسمشر غني سره پاتې شي. د مصالحې د عالي شوار جوړېدل هم اسانه نه وو، د کورنیو اړخونو په بیا بیا غوښتنه او د بهرنیانو په زیات فشار سره ولسمشر غني حاضر شو چې دا شورا جوړه شي. دا چې بهرنیانو او په خاص ډول امریکا د شورا د جوړېدو لپاره فشار راوړ، دلیل یې واضح و، ځکه چې غوښتل یې د سولې په تړاو د پرېکړو واک د ولسمشر غني له انحصاره وباسي. امریکایان د سولې په پروسه کې د ځنډ او خنډ له امله ناهیلي شوي وو او پر اشرف غني له بیا بیا فشارونو راوړلو هم ستړي وو، نو ځکه یې غوره ګڼله چې د مصالحې د عالي شورا په جوړولو سره یو مخ دا ستونزه حل کړي او په دې شورا سره د ولسمشر غني لاسونه او پښې ور وتړي.
اوس چې امریکایان وایي چې د مصالحې عالی شورا رهبري کمېټه د سولې په تړاو او آن د واک د وېش په تړاو واکمن بنسټ دی، نو په واضح ډول ورسره ولسمشر غني څنګ ته کېږي. ولسمشر غني او ملګري به یې هڅه وکړي چې د دې چارې مخه ونیسي او د مصالحې عالي شورا تر ډېره سمبولیکه او بې صلاحیته کړي، خو دا چاره به ځکه ستونزمنه وي چې له یوه اړخه به له کورني غبرګون او فشار سره مخ شي او له بله اړخه به د بهرنیانو غوښتنې یو مخ رد نه شي کړلی. له دې وروسته به د سولې په چاره کې د ولسمشر غني مخالفتونه او خنډونه ځکه ډېر کارنده نه وي چې هم ورسره د مصالحې په عالي شورا کې مخالفت کېږي او هم به بهرنیان د مصالحې د عالي شورا د دریځونو ملاتړ کوي. دا چاره به آن ولسمشر غني پر مذاکره کوونکي ټیم له برلاسی وغورځوي او هغوی به یې هم هرې خبرې ته سر نه خوځوي. له همدې امله د سولې په پروسه کې د ولسمشر غني لاسونه او پښې تړل کېږي او نور به د مصالحې شورا رهبرۍ کمېټه پرېکړه کوي، خو هغوی به هم تل د امریکا شنه ځراغ او خوښې ته ګوري.

# روز جهانی معلولین و وضعیت اشخاص دارای معلولیت در افغانستان

نویسنده: مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

روز جهانی معلولین (۳ دسامبر مطابق ۱۲ قوس) یک روز بین المللی است که از سال ۱۹۹۲ میلادی توسط سازمان ملل در سراسر جهان تجلیل میشود. هدف از تجلیل این روز حمایت از قوانین مربوط به اشخاص دارای معلولیت و رفاه معلولین میباشد. همچنان با تجلیل از این روز سازمان ملل متحد در صدد نمایش دستاوردها و داخل نمودن معلولین در عرصه سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و فرهنگی جامعه میباشد. هر سال سازمان بین الملل موضوعی را منحیث شعار به روز جهانی معلولین اعلام میدارد و تحت آن کشورهای جهان الی سال آینده فعالیت های شان را در راستای توانمندسازی معلولان انجام میدهند. شعار سال جاری «ارتقاء مشارکت افراد معلول و برابری» تعین گردیده که با الهام از برنامه توسعه پایدار ۲۰۱۵-۲۰۳۰ سازمان ملل متحد، از جانب این سازمان تعیین شده است.

**وضعیت معلولین در افغانستان**

معلول و یا کم توان به کسی گفته میشود که به علت نقص جسمی یا ذهنی (قبل از تولد و یا بعد از آن) اختلال مستمر و قابل توجهی در سلامت و کارآمدی عمومی وی ایجاد شده و تا حدی یا به شکل کلی از تامین ضرورت های زندگی عادی فردی یا اجتماعی ناتوان است، حسب تعریف فوق، در جهان امروز حدود پنج صد میلیون تن از این مشکل رنج میبرند.
کمیته بین المللی صلیب سرخ در افغانستان در ۳ دلو سال ۱۳۹۷ ه ش اعلان کرد که بیشتر از یک میلیون نفر در این کشور از معلولیت رنج میبرند و سالانه ده هزار معلول جدید در این اداره ثبت میشود. در خبرنامه سازمان بین الملل آمده که ازین جمله ده درصد کسانی هستند که از جراحت های مرتبط به جنگ رنج میبرند و ۹۰ درصد دیگر معلولیت های مادرزاد و یا هم معلولیت ناشی از بیماری ها و حادثات می باشند. در سال‌های اخیر به علت افزایش جنگ ها، رقم معلولیت ناشی از جراحت های جنگی افزایش قابل ملاحظه ای را نشان میدهد. قسمی که در سال ۱۳۹۸ ه ش داکتر فیروز الدین فیروز وزیر سابق صحت عامه کشور اعلام کرد که طی یک سال گذشته به شمار معلولان افغانستان افزوده شده و ۳ تا ۵ فیصد جمعیت افغانستان از معلولیت رنج می برند. وی بیان کرد که عوامل معلولیت: جنگ، امراض، حادثه یا تصادفات و آفات ولادی یا تشویش و فعالیت بیش از حد مادران در جریان بارداری می باشد. معلولیت روی افراد و خانواده های شان تاثیرات اجتماعی، اقتصادی و تاثیرات روانی در جامعه دارد. و برای از بین بردن و کاهش این تاثیرات در کشور نهادهای مختلف در کنار دولت فعالیت های انجام میدهد. از این میان صلیب سرخ از جمله بزرگترین سازمان های جهانی است که در کنار تعدادی از کشورها در افغانستان برنامه هایی را برای بالا بردن سطح زندگی معلولین عملی می نماید. این سازمان در ولایت های مختلف سالانه برای بیش از صد هزار تن که به اعضای مصنوعی نیاز دارند، خدمات ارایه میدارد. کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان و کمیسیون اصلاحات اداری برای ایجاد تسهیلات در استخدام معلولان، طرزالعمل استخدام را در نظر گرفته اند و به اساس قانون حقوق و امتیازات معلولان در افغانستان، دست کم ۳ درصد کارمندان ادارت دولتی کشور باید معلولان باشند؛ اما متأسفانه درعمل چنین نیست و اکثر ادارات با توظیف کارمندان معلول؛ روی خوش نشان نمی دهند. طبق قانون افغانستان هر گونه تبعیض میان شهروندان کشور ممنوع می باشد، اما متأسفانه این تبعیض در قسمت اشخاص دارای معلولیت؛ به شکل خود آگاه یا نا خود آگاه در اکثر دوائر خصوصی و دولتی وجود دارد. یکی از مشکلات اساسی معلولین، نبود زمینه تعلیمی و تحصیلی برای معلولین میباشد و با تأسف در این زمینه نیز کوتاهی های فراوان وجود دارد که به نوبهء خود باعث می گردد از فرصت های کاری بهتر، محروم بمانند و درین میدان با دیگران رقابت نتوانند.

**چالش های معلولین در کشور**

اشخاص دارای معلولیت در کشور ما با مشکلات متعدد مواجه هستند از جمله:
مشکلات نقل و حرکت: یکی از مشکلات اساسی معلولین مشکل حمل نقل و جابه جایی درون و بیرون شهر است. چنانچه ترانسپورت های عمومی با اشخاص دارای معلولیت همکاری لازم نمی نمایند و ترانسپورت خصوصی (تاکسی) هزینهء بالا نیاز دارد که از توان آنها بیرون می باشد.
مشکلات کار یابی: طبق قانون حقوق و امتیازات معلولین در افغانستان، در ادارات ۳ درصد کارمندان باید از جمله معلولان باشد، اما بنابر دلایل مختلف چون تبعیض، فساد اداری و پایین بودن سطح آگاهی جامعه، این قانون تا حال به شکل درست به اجرا نیآمده است.
برخورد افراد جامعه: به دلیل فرهنگ پایین مردم در تعامل با اشخاص دارای معلولیت، میان مردم برخی از معلولین سعی می کنند کمتر در جامعه حضور پیدا کنند. عدم توجه دولت و مردم به آنها سبب میگردد تا اعتماد نسبت به خود شان ضعیف گردیده و استعدادهای شان از رشد به دور باقی بماند.
مشکل دیگر قشر معلول در جامعهء ما تگدی و سوال گری است. تعدادی از معلولان بنا بر مجبوریت و خواست خود شان و تعدادی هم به تشویق و سازمان دهی دسته های مافیایی است به این کار می زنند. اما در مجموع این پدیده باعث گردیده تا موقف اشخاص دارای معلولیت در جامعهء ما پائین آمده و به عنوان قشری دست نگر و مفت خوار معرفی شوند.
Bعدم دسترسی معلولین به مراکز تحصیلی و محرومیت شان از بورس‌های تحصیلی خارجی، مشکل دیگری است که فراروی این قشر قرار دارد. ماده ۴۳ قانون اساسی تحصیل تا سطح لیسانس را حق هر شهروند افغانستان دانسته است و ماده ۱۹ قانون حقوق و امتیازات افراد دارای معلولیت، حضور معلولین در بورسیه های دولتی ۷ درصد و در موسسات تعلیمی و تحصیلی خصوصی نیز ۷ درصد پیش بینی کرده است، اما در حال حاضر بنابر بهانه تراشی ها و عوامل دیگر، از هردو فرصت کمترین استفاده را می نمایند.
و اخیراً اینکه دختران و زنان دارایی معلولیت مشکلات مضاعف دارند، یکی معلول بودن و دیگر زن بودن درکنار مشکلات که همه شاهد هستیم، آنها بیشتر با مشکلات دست پنجه نرم میکنند.

**راه حل های پیشنهادی**

بخاطر اینکه وضعیت معلولان در کشور بهبود یافته و مشکلات شان کمتر گردد، به کار طولانی و همکاری دوامدار حکومت و ملت ضرورت است. اما بخاطر کامیابی، این پروسهء طولانی، نکات ذیل حیثیت بنیادی دارد:

**فرهنگ سازی**

هر چی سطح فرهنگی و آگاهی مردم بالا برود، فرهنگ سازی صورت بگیرد معلولین در جامعه میتوانند بهتر با مشکلات کنار بیایند. رسانه های کشور باید از طریق پیام های همیشه گی و برنامه های خاص، در بالا بردن سطح فرهنگی جامعه و بهتر ساختن تعامل با افراد دارای معلولیت، نقش کلیدی بازی نمایند. چنانچه مکاتب، مدارس، منابر و خطبای کرام ما هم می توانند نقش سازنده ای درین راستا انجام دهند.

**حمایت دولتی**

دولت افغانستان باید در مدد معاش ماهانهء معلولان ازدیاد به عمل آورده به اساس یک پلان طویل المدت، تمام معلولان حوادث جنگی و غیر جنگی را زیر پوشش خود قرار دهد. با توزیع عادلانه کارت های تخفیف برای معلولان، برای آنها در زمینه حمل و نقل، تعلیم و تحصیل و حتی خرید مایحتاج زندگی، سهولت ایجاد نماید. استحقاق قانونی معلولان در وظائف دولتی و بورس های تحصیلی باید برای شان تضمین شود.

**رشد استعدادها**

فعالیت های مختلفی که از جانب معلولان صورت میگیرد مورد توجه قرار گیرد و فرصت برایشان ایجاد گردد و استعدادهای آنها باید انکشاف یابد. برای رشد استعدادهای معلولان در عرصه های گوناگون، دوره های مختلف آموزشی و تعلیمی برای شان دایر گردد. رسانه های تصویری باید در برنامه های شان، زبان اشاره و مترجم ناشنوایان را عملی نمایند. همچنان، بخاطر تربیت بدنی معلولان، باشگاه های ورزشی ویژه و رایگان ایجاد گردد.

**ایجاد فضای صلح آمیز**

جنگ تمام افراد جامعهء مارا متضرر ساخته است؛ اما قشر معلول جامعه بیشتر از جنگ متضرر گردیده و ازین ناحیه متضرر می گردند. در اثر دوام جنگ و نا امنی، نه تنها تعداد معلولان کشور بیشتر می شود، بلکه اقدامات لازم در قسمت حمایت از حقوق اشخاص دارای معلولیت صورت گرفته نمی تواند. تا وقتیکه جنگ بیشترین سرمایه های مارا به کام خود فرو برد، نباید توقع کرد که کار زیادی بخاطر بهبود زندگی معلولان کشور صورت گرفته بتواند. به همین خاطر، قطع جنگ و تحقق صلح و آشتی ملی؛ پیش زمینهء هر نوع ترقی و انکشاف و زمینه ساز خوشبختی و رفاهیت قشر معلول در جامعهء ما می باشد.

# پوهنې وزارت: له ۱-۳ ټولګي زده کوونکي به تر دې وروسته په خپلو جوماتونو کې زده کړې کوي

د پوهنې وزارت د نوې پرېکړې له مخې، له لومړي ټولګي څخه بیا تر درېیم ټولګي پورې زده کوونکي به تر دې وروسته خپلې زده کړې د خپلې سیمې په جوماتونو کې ترسره کوي.
یاد وزارت په دې اړه په یوه اعلامیه کې ویلي چې له دغه اقدام څخه یې موخه د ښوونې او روزن په سیستم کې د اسلام مرکزي ځای یا رول لرل دي.
پوهنې وزارت همدارنګه ویلي چې مخکې عمومي تعلیماتو د ټولو لومړنیو او ثانوي تعلیماتو پر وړاندې مسوولیت درلود، خو اسلامي تعلیماتو یوازې د دارالحفاظونو او مدرسو د مدیریت پر وړاندې مسوولیت درلود، چې دغه وېش




یا جلا والي، د اسلام موقف په څنډه کې راوستی وه.
د یاد وزارت په اعلامیه کې راغلي: «د پوهنې وزارت جوماتونه په خپل تعلیمي ایکو سیستم کې شامل کړي چې د هغو پر بنسټ د ۱-۳ ټولګیو ټول زده کوونکي به خپل تعلیمات په خپلو محلي جوماتونو کې ترسره کوي. د زده کړې په دریو لومړنیو کلنو کې، جومات ته په تګ به یو پیاوړی اسلامي هویت روښانه او څرګند شي.»
پوهنې وزارت دغه راز وایي چې دا مهم او لوی بدلون یو عاقلانه پروګرام ته اړتیا لري، ترڅو دغه بدلون په تدریجي ډول ګام پر ګام پلی شي.
تر دې مهاله معلومه نه ده چې دغه نوې پرېکړه به څه وخت عملي شي. غه راز د افغانستان د حج او اوقافو وزارت هم تر دې مهاله په دې اړه څه نه دي ویلي.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې پوهنې وزارت د دغه وزارت په چوکاټ کې د اسلامي تعلیماتو معینیت هم لغوه کړ، خو د یاد وزارت سرپرستې په دې وروستیو کې ولسي جرګې ته د خپل پروګرام د وړاندې کولو پر مهال وویل چې د دغه معینیت پرځای به د وزارت په چوکاټ کې یوه باصلاحیه کمیټه رامنځته شي، چې اجرایوي صلاحیت به هم ولري.

# روند صلح افغانستان؛

## در سه ماه مذاکرات دوحه چه گذشت؟

بی‌بی‌سی فارسی

مذاکرات صلح افغانستان در دوحه قطر میان هیات‌های مذاکره کننده دولت افغانستان و گروه طالبان از ۱۲ سپتامبر در جریان است.
اعلام موافقت در مورد شیوه کار مذاکرات اصلی، موفقیت چشمگیری است؛ اما اصل مذاکرات هنوز در راه است.
بی‌بی‌سی فارسی نگاهی کرده به بخشی از پیشرفت‌هایی که تا حال انجام شده است.
مذاکرات رسمی با دیدار دو گروه مذاکره کننده در حضور مایک پامپیو، وزیر خارجه آمریکا آغاز شد.
ابتدا، روی آیین‌نامه مذاکرات مانند اینکه نشست‌ها باید با آیات قرآن شروع شوند و وقفه‌های غذا چه زمانی باشد، موافقت شد. موضوعات مشکل‌تر به گروه تماس واگذار شد که از سوی دو گروه مذاکره کننده مشخص شده بود.
ده روز بعد از آن، زلمی خلیلزاد، فرستاده ویژه آمریکا برای صلح افغانستان در کنگره شهادت داد و گفت: «در حالی که ما دلایلی به امیدواری داریم، ولی در عین حال، هیچ شکی وجود ندارد که چالش‌هایی در برابر ما قرار دارد.»
او به نمایندگان کنگره آمریکا گفت که مذاکره‌کنندگان دولت و طالبان باید بر منافع فردی و اختلافات سیاسی خود فایق آیند، در صورت دست نیافتن به موافقتنامه صلح، مردم افغانستان متضرر اصلی خواهند بود.
گزارش‌ها می‌گویند که دو طرف روی تغییرات کوچک در کاربرد واژگان در مذاکرات موافقت کرده اند، مانند تغییر «قرآن و سنت» به «شریعت»، عدالت اجتماعی» به «عدالت اسلامی» و «جهاد» به «منازعه/درگیری».
با گذشت سه هفته جنجال روی واژه‌ها و مفاهیم، محمد اشرف غنی رئیس جمهوری افغانستان به قطر سفر کرد. او با مقام‌های قطری و هیات مذاکره کننده دولت دیدار کرد.
بعد از حمله گروه طالبان به ولایت هلمند، زلمی خلیلزاد، فرستاده ویژه آمریکا برای صلح افغانستان همراه با جنرال اسکات میلر، فرمانده آمریکایی نیروهای ناتو در افغانستان، با نمایندگان طالبان در مورد افزایش خشونت‌ها دیدار و بحث کردند.
آتش‌بس در جریان مذاکرات صلح، از جمله مفاد موافقتنامه آمریکا و طالبان نیست.
تنها چیزی که در موافقتنامه در مورد آتش‌بس ذکر شده این است که بحث روی آتش‌بس بخشی از گفت‌وگوها بین دولت افغانستان و گروه طالبان باشد.
گزارش‌ها می‌گویند که تیم‌های تماس مذاکره کننده در دوحه هر کدام به سه عضو تقلیل یافته اند: غلام فاروق مجروح، فاطمه گیلانی و رسول طالب تیم تماس هیات دولت و نبی عماری، قاری دین محمد و لطیف منصور عضو تیم تماس هیات طالبان انتخاب شده اند.
هنوز دو موضوع اصلی همچنان حل نشده باقی مانده است: مبنای حقوقی حل اختلافات و وضعیت توافقنامه ایالات متحده و طالبان.
مایک پامپیو وزیر امور خارجه آمریکا، برای دیدار با اعضای هر دو تیم مذاکره کننده وارد دوحه شد. ایالات متحده در حال برنامه ریزی برای خروج نیروهایش از افغانستان از ۵،۰۰۰ نفر به ۲۵۰۰ تا اواسط جنوری است.
اتحادیه اروپا، بریتانیا و سایر همکاران خارجی خواستار فعال شدن شورای عالی مصالحه شدند، این نهاد برای هدایت گفتگوها ایجاد شده است.
اتحادیه اروپا گفته که «علاوه بر رهبران سیاسی، شورا باید شامل اعضایی به نمایندگی از گروه‌های زنان، قربانیان جنگ، اقلیت‌های مذهبی، جوانان و سازمانهای جامعه مدنی باشد.»
نمایندگان دولت افغانستان و گروه طالبان می‌گویند که آنها به توافق ابتدایی برای پیشبرد مذاکرات صلح دست یافته اند.
موافقت روی شیوه کار، موفقیت بزرگی در روند گفت‌وگوهای صلحی پنداشته می‌شود که به حمایت آمریکا از ماه سپتامبر تا به حال در دوحه، پایتخت قطر در جریان است.
زلمی خلیلزاد، نماینده ویژه آمریکا برای صلح افغانستان، موافقتنامه سه صفحه را موفقیت قابل ملاحظه‌ای در رابطه به مذاکرات در مورد نقشه راه سیاسی و آتش‌بس سراسری دانست.
یکی از اعضای تیم مذاکره کنند دولت گفت که قدم بعدی ترتیب برنامه / اجندای مذاکرات خواهد بود.

# امریکا او د ملي مصالحې عالي شورا؛

## خلیلزاد: دغه شورا د واک د وېش او دایمي سولې راوستو با صلاحیته بنسټ دی



د ملي مصالحې عالي شورا د لومړنۍ ناستې له پیل سره سم امریکا او ځینو نورو هېوادونو غبرګون ښودلی دی. امریکا ویلي چې د دې شورا د غونډو له پیل او رهبرۍ کمېټې د وروستیو ځرګندونو هرکلی کوي. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت او د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هغه د واک د وېش او له طالبانو سره د دایمي اوربند د تامین لپاره یو با صلاحیت بنسټ بللی دی.
بلخوا خلیلزاد ټینګار کړی چې د سولې لپاره باید هڅې ګړندۍ شي او وروستي پرمختګونه هم ګټور بولي.
ورمه ورځ په کابل کې د ملي مصالحې عالي شورا د غړو لومړنۍ غونډه ترسره شوه. دا غونډه د ولسمشر غني په وینا پیل شوه او وروسته د ملي مصالحې عالي شورا د رییس ډاکټر عبدالله عبدالله او پخواني ولسمشر حامد کرزي په ګډون ګنو ګډونوالو دې غونډې ته وینا وکړه. دوی ټینګار وکړ چې سوله یې لومړیتوب ده او په دې برخه کې به خپلو هڅو ته ادامه ورکوي. د دې شورا ځینو غړو له ولسمشر غني دا هم غوښتل چې باید د ملي مصالحې عالي شورا پرېکړو ته درناوی وکړي او هغه عملي کړي. دوی پر طالبانو هم د جګړو د درولو او مذاکراتو د چټکولو غږ وکړ.
له دې سره جوخت تېره ورځ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د یوې اعلامیې په خپرولو سره د دې شورا د لومړنۍ غونډې هرکلی کړی دی. د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هیله څرګنده کړې چې دغه شورا وکړی شي چې په افغانستان کې د دایمي اوربند او سولې په راوستو کې اغېزناکه تمامه شي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په دې اعلامیه کې ویلي، ملي مصالحې عالي شورا د سولې د لارې نقشې جوړولو، دایمي اوربند راوستلو او واک د شریکولو په مسئله کې یو معتبر بنسټ دی. د پمپیو په خبره: (( د ملي مصالحې عالي شورا به په بین الافغاني مذاکراتو کې د افغان حکومت پلاوي ته د لارې نقشه ټاکي، د سیاسي جوړجاړي تګلاره به ورته ښیي، د واک د شریکولو پر مسئله به بحثونه ورسره کوي او دوی به همدا راز هڅه کوي چې په افغانستان کې دایمي اوربند تامین کړي او دلته تر ټولو اوږدې جګړې ته د پای ټکی کېږدي)).
له دې سره جوخت د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم ویلي چې د ملي مصالحې عالي شورا به د واک د شریکولو او همدا راز په افغانستان کې د دایمي اوربند په رامنځته کولو کې اغېزناک کارونه وکړي. نوموړي د یادو پرېکړو په رامنځته کولو کې د ملي مصالحې عالي شورا یو با صلاحیته بنسټ بللی دی او په خبره یې، پرېکړو ته یې باید درناوی وشي.
بلخوا طالبان بیا وایي چې له زلمي خلیلزاد سره یې تازه د پاتې بندیانو په خوشي کولو او له تور لېست د خپلو مشرانو د ایستلو پر سر خبرې کړې دي. د طالبانو د قطر دفتر ویاند ډاکټر نعیم په خپرو کړو ټوېټ پیغامونو کې ویلي چې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په دوحه کې د طالبانو له سیاسي مرستیال عبدالغني برادر او د دغه ډلې د مذاکراتي پلاوي له مشر مولوي عبدالحکیم سره کتلي دي. د ده په خبره، په دې لیدنه کې د سولې د وروستیو پرمختګونو تر څنګ په موضوع پورې اړوندو مسایلو باندې بحث شوی دی او طالبانو له خلیلزاد غوښتي چې پاتې بندیان یې هم خوشي کړي.
طالبان داسې مهال له امریکا د پاتې طالب بندیانو د خوشي کولو خبره کوي چې پرون هم د دواړو لورو ترمنځ پر اجنډا بحثونو دوام کړی دی. افغان حکومت وایي چې دوی به په اجنډا کې اوربند ته تر هر څه لومړیتوب ورکړي او لومړنۍ غوښتنه یې هم اوربند ده. طالبان بیا وایي چې د دوی بندیان دې په لومړي سر کې خوشي کړل شي او دغه راز دې د دوی د مشرانو نومونه له تور لېست و ایستل شي.

# د کرونا زیاتېدونکی ناورین؛

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر یو میلیون او ٥٣٦ زره او ۸۳۹ ته ورسېد




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ٦٦ میلیونه او ۹۸۴ زره او ۳۱۱ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ٥٣٦ زره او ۸۳۹ کسان مړه شوي او له ٤٦ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.
د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۴ میلیونه او ۹۸۴ زره او ۴۲۵ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲۸۷ زره او ۸۲۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ٦٥١ زره او ٦٢٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۵۷۷ زره او ۱۷۷ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، روسیه د دوه میلیونه او ۴٦۰ زره او ۷۷۰ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۲۸۱ زره او ۴۷۵ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.
بلخوا د راپورونو له مخې، فایزر امریکایي شرکت ویلي چې په هند کې د کرونا ویروس د خورا چټکې پراختیا په حال کې دی او باید د هند حکومت ژر تر ژره دوی ته د دغه ویروس ضد واکسین د وېش جواز ورکړي، خو د هند حکومت تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.
هند په نړۍ کې د کرونا د مثبتو پېښو له اړخه دویم هېواد دی. سره له دې چې د هند حکومت خپل تدابیر لري، خو بیا هم یاد ویروس په دغه هېواد کې د چټکې پراختیا په حال کې دی. دا په داسې حال کې ده چې برېټانیا بیا تېره اونۍ د فایزر شرکت د واکسینو د وېش جواز ورکړی او په روسیه کې هم تېره ورځ د یاد هېواد له خوا د جوړ شوي واکسین د وېش لړۍ پیل شو.
دغه راز د نړۍ ګڼو نورو هېوادونو هم د امریکایي او روسي واکسین د اخیستلو لپاره خپلې غوښتنې د یادو هېوادونو کمپنیو ته سپارلې دي.

## د کتـاب خبـري

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
**کشمير**




د منهو خورجين ولې خپه کړل شي؟ دا قانع کوونکي دلايل بربښېدل. همدارنگه له لويې وچې (هند) بهر يو شمېر خلکو له هند څخه ورته تمه درلوده. يادو خلکو ويل دا هغه پيغام دی چې موږ يې اخلو. په دې توگه هند نه يوازې روان وضعيت گټل کېږي، بلکې په لويه کچه د روان وضعيت ځواک هم بلل کېږي. هند به د دې وضعيت د دوام لپاره ټولې هڅې وکړي او حتی د دې لپاره به پر هغې لار گام هم وانخلي چې گټې يې پکې نغښتې دي، ځکه چې دا کار هغو پخوانيو ملگرو ته د تسليمېدو په مانا دی چې ته ورسره راحت يې. له همدې کبله ويلی شم چې ډيلي ولې د مشرف طرحې ته ځواب ور نه کړ. که له کوم وړانديز سره جوړ نه وې، نو دومره خو کولای شې ځواب ورکړې چې: مننه، موږ به په دې اړه فکر وکړو او بيا به خپل ځواب درکړو. زموږ د طرحې په اړه چوپتيا دا په ډاگه کوله چې نوی ډيلی لېوالتيا نه لري. که په ډيپلوماټيکه اصطلاح يې تعبير کړو نو هند موږ ته وويل چې رنگ مو ورک کړئ، په داسې لار لاړشئ چې مسير نه لري، موږ خپل کار په خپله کوو.

دولت: موږ تل د دې کړکېچ په اړه ورته نظر لرلی دی. کله چې د هند او پاکستان ترمنځ څه نه وي، نو روان وضعيت څه مانا لري؟ حتی تگ او راتگ يوه ستونزه ده. که چېرته اړيکې سمې وي، نو موږ به هره اونۍ دا ډول بحثونه په ډيلي او لاهور کې ولرو. زه تل په دې باور وم چې روان وضعيت هېڅ مانا نه لري او موږ پرمختگ ته اړتيا لرو. په حقيقت کې که روان وضعيت له کوم هېواد سره مرسته کولای، نو اوس به يې گټه پاکستان ترلاسه کوله. اجازه راکړئ چې د «روان وضعيت» په اړه درته يوه څرگنده بېلگه وړاندې کړم. راځئ چې همدا نن کشمير ته لاړ شو. هلته روان وضعيت په ۲۰۱۲ کال کې ټاکل شوی او دوام لري. خو دا روان وضعيت اوس د پاکستان په گټه دی، ځکه چې د BJP او PDP ائتلافي حکومت کشميريان ناهيلي کړي دي. د جمو کشمير اعلی وزيره محبوبه په دې اړه پوهېږي، خو نوموړې له بن بست سره مخ ده. هغه او پاکستان دواړه پوهېږي چې په کشمير کې نارضايتۍ د پراخېدو په حال کې دي. هلته د خوځښت له پيل راهيسې په لومړي ځل ځايي خلک د جگړې له ليکو سره يو ځای کېږي. ځوانان اعتراض لري او د تبعيض او ناهيلۍ احساس کوي. دا کېدای شي له ۲۰ تر ۳۰ پورې ځوانان وي، خو پايلې يې ناوړه دي.ټول خلک لېوالتيا لري چې د هغوی تر شا ودرېږي. دا سرخوږی جوړوي. نو دې ته په کتو، روان وضعيت څنگه مرسته کولای شي؟ مگر هو، په دغسې يو حالت کې له پاکستان سره مرسته کولای شي. خو په لويه کې روان وضعيت هېڅکله مرسته نه شي کولای.

دوراني: يو يا دوه کاله مخکې ښاغلي دولت ويلي وو چې روان وضعيت تر ډېره د پاکستان لپاره مناسب دی، ځکه چې ستونزه په کشمير کې ده. زه د هغه په دليل پوه نه شوم او نه د موضوع تل ته لاړم، ځکه چې د برهان وانې تر مړينې وروسته د دواړو خواوو ترمنځ اړيکې نورې هم ترينگلې شوې. وروسته ما د کنايې په ډول وويل چې د دې لپاره چې په کشمير دره کې څه پېښېږي، پاکستان بايد لاس تر زنې کېني او يوازې د لوبې ننداره وکړي. ممکن هند به اړ شي چې د پخوانيو گواښونو او چارو په تړاو خپله اصلي تگلاره بدله کړي او په دې توگه به موږ يو نوی روان وضعيت ولرو. په دغسې يو حالت کې ادعا کېدای شوای چې روان وضعيت د پاکستان په گټه نه دی. پاکستان له داسې وضعيت سره چې کشميريانو ته پکې مرگ ژوبله وانه وړي، ستونزه نه لري. همدارنگه که مرگ ژوبله حتمي وي او حتی هند د دې وضعيت برخه نه وي، نو بيا به هم د کرښې دې غاړې ته کړکېچ وي. موږ نه يوازې چې د داسې وضعيت په وړاندې غلي نه شو پاتې کېدای، بلکې غواړو چې په نورو مسايلو کې هم ښکېل اوسو. زه کله کله وايم چې زموږ اړيکې د ستراتېژيک ثبات کچې ته رسېدلې دي.

دولت: اوس ولې يو ثابت بن بست مثبت برېښي؟ که موږ دواړه د استخباراتي مسايلو په اړه يوه مقاله وليکو او همدارنگه دواړه په هره غونډه کې د استخباراتو د مشرانو ترمنځ پر ليدنو کتنو ټينگار وکړو، نو دا د روان وضعيت يا سټېټيس کو په مانا نه دی. زه له دې هم پسې وړاندې تللی يم او په دواړو پلازمېنو کې مې د استخباراتي څانگو د جوړولو وړانديز کړی و. موږ همدارنگه په ډيلي کې د پاکستان سفارت ته د حريت د ټولو گوندونو کنفرانس د غړو پر ورتگ د بنديز خبره کړې وه. وروسته کله چې ولسمشر فاروق لغاري په ۱۹۹۵ کال کې هند ته سفر وکړ، ناراسيما راو د دې خبرې مخالفت وکړ او ويې ويل چې دا چټيات بند کړئ. که څوک ورځي بايد اجازه ورکړل شي. که څوک بهر ته سفر کوي، بايد پرېښودل شي. واجپای پسې نور هم مخکې لاړ او وې ويل چې پاکستان ته د حريت د سفر لپاره بايد اسانتياوې برابرې شي. هلته پراخېدونکی خوځښت و. وروسته ودرېد او موږ اوس پر شا کېږو.

**دوام لري...**

# زابل

◀ حشمت الله نوري

زابل د شمالي عرض البلد په ٦٦ درجو او د ختيځ طول البلد د ٣٢ درجو او ۷ دقيقو تر منځ د هېواد په سوېل- لوېديځ کې پروت دی.

زابل يا پخوانی زابلستان د پښتنو د لرغونو قبيلو زاوليانو ټاټوبی، د کابل-کندهار پر لويه لار پروت دی، چې ۱۷۲۹۳ کيلومتره مربع مساحت لري.

زابل ۴۵ کاله وړاندې په رسمي ډول د مستقل ولايت په توگه ونومول شو. په ۱۳۹۰ کال کې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون له لوري د شوې سروې له مخې، د زابل د نفوسو شمېر شاوخوا څلور سوه زره تنه ښودل شوی دی.

**څلور خواوې**

د زابل ختيځ ته د غزني ناوه ولسوالي، د پکتيکا تروه ولسوالي او د ډيورنډ پوله پرته ده. شمال ته يې غزني، لوېديځ ته يې کندهار او د اروزگان ځينې برخې او سوېل ته يې کندهار پروت دی.

**ولسوالۍ**

دغه ولايت پر مرکز کلات سربېره يوولس ولسوالۍ لري چې شملزي، ارغنداب، خاکيران (خاك افغان، کاکړان) دای چوپان، ميزانه، شاجوی، شهر صفا، اټغر، شينکۍ، نوبهار او سيوري نومېږي. په دغه ولايت کې توخي، هوتك او د دې تر څنگ ترکي، اندړ، سليمانخېل، ناصر، خروټي، کاکړ، احمدزي، پوپلزي، وردگ، يوسفزي، صافيان او شيراني قومونه پکې استوگن دي. د زابل ټول وگړي پښتانه دي.

**کلتور**

زابل که څه هم چې پخوا يې فرهنگي او کلتوري وضعيت ډېر د پام وړ نه و او خلکو ورسره ډېره لېوالتيا نه درلوده، خو اوس په کې ډېرې کلتوري او فرهنگي هڅې روانې دي. فرهنگي ټولنې شته، فرهنگي خپرونې، غونډې او مشاعرې هغه څه دي چې په زابل کې تر سره کېږي. سورغر ادبي ټولنه او زابل ادبي بهير په کې فعالې فرهنگي ټولنې دي، چې هر کال د بادام گل په نوم مشاعرې هم کوي.

**رسنۍ**

د حامد کرزي په مشرۍ د نوي حکومت په راتلو سره په زابل کې هم ځينو خپلواکو رسنيو پر فعاليت پيل وکړ. په دغو رسنيو کې د ترنک، ملي او زبل راډيوگانې، کلات غږ پنځلس ورځنۍ جريده، ترنک اونيزه، زبيده او شنه پاڼه مجله شامل دي چې اوس شنه پاڼه مجله او ترنک مجله يې له چاپ څخه پاتې دي. په دې وروستيو کې د زابل په شهر صفا، شاه جوی او شينکۍ ولسواليو کې هم سيمه ييزې راډيوگانې د زابل د ولايتي بيارغونې ډلې (پي ار ټي) لخوا جوړې شوې دي، خو د هغوی نشرات تر ډېرو محدودو ساحو پورې دي.

**تاريخي ابدې**

غوره مرغه او د غونډانو تاريخي غر چې د پښتنو په ټولو تاريخي شجرو او کتابونو کې يې نوم راغلی، د کلات د بالا حصار غونډۍ، د شملزو په ولسوالۍ کې د کچرو تاريخي لاره چې د احمدشاه بابا لښکرې له همدې لارې هند ته تلې، د غشي منار همدا غشی احمدشاه بابا د کلات او جلدك تر منځ هغه مهال جوړ کړ، کله چې هند ته د غزا په نيت تلو او دلته يې د برې لپاره د فال په نيت غشی وار کړ. د سيوري ولسوالۍ د سره غره په لمنه کې د بولان په نوم د پښتنو تاريخي هديره، د بولان په سيمه کې پخوانۍ لرغونې سمڅه، د صاحب خان غونډۍ، سورتاك او سنگر جمال خېل سيمې، د کلات پر غونډۍ د شيخ متي عليه الرحمه زيارت، په نوبهار ولسوالۍ کې د معافانو کلي چې د احمدشاه بابا لخوا له عسکرۍ معاف شوی و، د شملزو په ولسوالۍ کې د ساوټ غره په لمنه کې د خنکۍ زيارت، د شملزو ولسوالۍ ته په پنځه کيلومترۍ کې د خرښبون نيکه زيارت، د نوبهار ولسوالۍ د غونډانو غره ته نږدې د کټه بابا زيارت، په خپله د غونډانو تاريخي غر، په اټغر ولسوالۍ کې د ملکيار بابا د زوی حسين نيکه زيارت، د شينکۍ په ولسوالۍ کې سپيدار ته نږدې د ملکيار بابا د شهيدانو هديره، د شملزو د ولسوالۍ او نوبهار ولسوالۍ تر منځ د لواړگي سيمې، د غونډانو په لمنه کې د بابو کلي ته نږدې د مغلو او پښتنو شهيدانو هديره، د نوبهار ولسوالۍ او شاجوی تر منځ د شوبهار تاريخي سيمه چې يو وخت د شابهار په نوم و، د شاجوی او کلات تر منځ د کابل او کندهار د لويې لارې سوېل خوا د تازي سيمه او د نازو انا د پلار سلطان ملخي تاريخي کلا، د زابل ولايت د شملزو په ډگرو کې له گرگينانو سره د پښتنو سرتېرو زيارتونه، د شملزو په ډگرو کې د سهاك خوندي مشهور تاريخي زيارت، د شملزو د ولسوالۍ د دروازگۍ په خوله کې د پښتنو د يوه پخواني ليکوال حسين نيکه او جانان صافي زيارتونه، د گرمام بابا زيارت، د حسني متي بابا زيارت، د حسن نيکه زيارت، د محمد هوتك د پټې خزانې د ليکونکي مزار او داسې نور د زابل تاريخي ابدې دي.

**مشاهير**

سلطان ملخي توخی، نازو انا، ملکيار بابا، بابا هوتک، شېخ متي بابا، شيخ کټه بابا، محمد هوتک د پټې خزانې ليکوال، د ميرويس نيکه پلار شاه علم خان هوتک، سيدال خان ناصر، ملا باز توخی، جانان هوتک، محمد عمر خان توخی، وکيل بسم الله خان هوتک، ملا عبدالقيوم شملزی، وکيل حبيب الله خان، ملا عبدالسلام راکيټی، خان خنډي خان، حاجي عبدالباري خان، حاجي محمد هاشم خان هوتک، ډاکټر زلمی زابلی، حميدالله خان توخی، حاجي عزيزالله خان ناصر او نور يې مخکښ او نوميالي دي.

**کرنه**



د دې ولايت خلک زيات پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي چې عمده حاصلات يې بادام، غنم، اوربشې، جوار، مېۍ او نورې غلې دانې دي، خو د تازه مېوو په برخه کې هم دغه ولايت ډېرې مېوې لکه خټکي، هندوانې، انار، انگور، انځر، بادام او توت لري.

**ښوونه او روزنه**

زابل د نورو ولايتونو په پرتله د ښوونې او روزنې له پلوه لړ ټکنی دی، دغه ولايت چې په تېرو وچکاليو کې خورا ځپل شوی دی، خلك يې مجبوره دي چې د خپلې کورنۍ لپاره نفقه لاس ته راوړي، دا چې په دغه ولايت کې د اوبو سطحه ټيټه ده، نو خلك مجبور دي چې د هېواد د ځينو ولايتونو تر څنگ، پاکستان، ايران او دوبۍ ته د مزدوريو لپاره ولاړ شي، همدې چارې تر ډېره ښوونه او روزنه هم له گواښ سره مخ کړې ده او بله دا چې دغه ولايت غرنی دی. په ځينو سيمو کې يې د ناامنۍ له کبله هم ښوونځي نشته او ماشومان يې له کورنيو سره په مال څرولو او د کرنې پر چارو بوخت دي.

د دې ولايت د پوهنې رياست د معلوماتو له مخې، په دې ولايت کې ټول ٢٣٦ ښوونځي دي، چې ٩٥ يې پرانيستي او ٤٥ زره زده کوونکي په کې زده کړې کوي او نور يې د ناامنيو له امله تړل شوي دي.

**سوداگري**

په زابل کې د سوداگرۍ چارې د پام وړ نه دي، خو بيا هم په دغه ولايت کې د بادامو، زردالو، انگورو، غنمو، وربشو او جوارو سوداگري کېږي چې ځينې خلک يې پر کار بوخت کړي دي.

**لوبې**

په زابل کې اوس هم تر ډېره پخوانۍ لوبې د خلکو خوښېږي. خوسی، بيډۍ، مردکۍ، سوخوټ (د تيږو لوبه)، غېږنيول، توپ ډنډه او نور يې په دوديزو لوبو کې راځي او دغه راز د شپې لخوا د فولکلوريکو کيسو اوږده داستانونه ويل هم په کې دود دي.

په دغه ولايت کې ځينې نورې عصري لوبې هم شته لکه کرکټ، فوټبال او واليبال چې مينه وال يې مخ په زياتېدو دي.

په دغه ولايت کې تر اوسه کوم رسمي ورزشي کلب نه دی جوړ شوی او نه هم تر اوسه د دغه ولايت لوبغاړي په رسمي لوبو کې لوبېدلي دي. د دغه ولايت ځوانان بيا په تېره هغه يې چې ورزش ته يې مخه کړې ده، له دولت غواړي چې دوی ته د ورزش په معيار برابر لوبغالي او ورزشي کلبونه جوړ کړي، څو له دې لارې وکولای شي خپل هيواد ته يو خدمت وکړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶,۹۰ |
| € | ۹۲ |
| Rp. | ۴۸۰ |
| ₹ | ۱۰۴۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۱,۵ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

همیانی

# د زمري په خوله کې هم همت له لاسه مه ورکوئ!

ژباړه: حمیدالله حمیدي

د «اتاکاما» دښته د نړۍ وچه صحرایي سیمه ده. د ۲۰۱۰ کال د اګېست میاشتې پنځمه وه چې د نړۍ د ډېرو سیمو او هېوادونو خلک له دې وچې دښتې سره اشنا شول. کېدای شي تاسو هم هغه پنجشنبه په یاد ولرئ چې د «کوپاپیوی شیلي» سیمې په ۲۸ مایله واټن کې د مسو او سرو زرو په ۱۲۱ کلن کان کې یوه لویه پېښه رامنځ ته شوه. هغه کسان چې د کان د راښویېدو په پېښه کې تر خاورو لاندې خښ شوي وو، د «۳۳ ورک شویو کسانو» په نوم مشهور شول. هغوی شاوخوا ۲۳۰۰ قدمه تر ځمکه لاندې او د کان له خولې د دریو مایلو په واټن کې غرق شوي وو او د کان دننه کېندل شویو تونلونو په منځ کې بند پاتې وو. دغه ۳۳ کسان چې ځینې یې کان کېندونکي او ځینې نور یې په اړوند برخه کې مرستندویه فني پرسونل وو، د نورو ټولو ستونزو سربېره د خوړو د نشتوالي او زیات لنده بل له امله تر فشار لاندې وو. تر ځمکې لاندې په ۷۰۰ مترۍ کې یې شاوخوا ۶۷ ورځې تېرې کړې چې بالاخره وژغورل شول.

د دې ډلې مشر «لویېس اورزا» چې د خپلې ډلې د ژغورلو او د ځمکې مخ ته د رسېدلو لپاره یې اوږد انتظار ایستلی و، په موسکا سره وایي: «زموږ په ژوند کې یو ژور بدلون رامنځ ته شو.» لویېس د هغه غوره مدیریت له کبله چې تر ځمکه لاندې یې د اسارت په ورځو کې کړی و، تقدیر او وستایل شو. هغه له بندو کسانو سره مرسته کړې وه چې خپله ارامتیا وساتي، په سړه سینه هر څه وزغمي او د دې پر ځای چې پر خواشینۍ او د مرګ پر وېره فکر وکړي، د ژغورلو پر لاره او د ژوند پر دوام تمرکز وکړي.»

دا ډېره طبیعي او په اسانۍ سره د پوهېدو وړ ده چې لویېس به هم په دغو شرایطو کې د هر بل کس په څېر وېرېدلی وي. موږ ټول په داسې یو حالت کې له مرګه وېرېږو؛ خو توپیر په دې کې دی چې هغه خپله وېره نه وه څرګنده کړې! هغه د وېرې پر ځای خپله ډله په یوه امن ساحه کې را ټوله کړې وه، هغوی یې پر وېره برلاسي کېدو ته هڅولي وو او د دې مودې په اوږدو کې یې د ژوند د دوام لپاره د لاسرسي وړ سرچینې په پام وړ توګه ارزولې او رهبري کړې وې.

له پېښې وروسته لویېس خپل درې کسه کار کوونکي د تونل د حالاتو د څېړلو لپاره لېږلي وو. څرګنده شوه چې د یادې مودې په لړ کې هغه د ژغورنې د عملیاتو لپاره جزئي نقشې جوړې کړې وې، د ژغورنې د عملیاتو لپاره یې د ځمکې لاندې ټول اړخونه په ښه توګه مدیریت کړي وو او د ټیلیفوني کنفرانسونو له لارې یې له کانه د باندې له ژغورونکي ټیم سره خپلې اړیکې ټینګې ساتلې وې.

هغه په سړه سینه د ټولو بند پاتې شویو کسانو د ژغورنې لپاره یوه غوره تګلاره وکاروله. هغه خپلو څواکونو ته د دې وړتیا ورکړې وه چې وکولای شي له کنټروله وتلي شرایط تر خپل واک او کنټرول لاندې راولي.

ټول ۳۳ کسان وژغورل شول او د لویېس له مدیریت، مشرۍ او مرستې یې ستاینه او منته وکړه. هغه وکولای شول خپله وېره پر هغه څه چې موږ یې «په سړه سینه پرېکړه کول» بولو، بدله کړي.

څنګه کولای شو د سړې سینې په لرلو او غوڅې پرېکړې ته په ځان کې وده ورکړو او ستونزې په سمه توګه مدیریت کړو؟

**له ځان سره ښتینې اوسئ!**

پرېږدئ چې ژمنه او لېوالتیا مو له وېرو پیاوړې وي. «لویېس اورزا» او «ران کلېن» د دوو بېلګو په توګه په یاد ولرئ.

هغه ستونزې چې د هغوی په مخکې موجودې وې، ویې نشوای کولای چې د هغوی مخه ونیسي، ځکه هغه دواړه په دې پوهېدل چې زغم او صبر درلودل ارزښت لري. پر ستونزو د تمرکز کولو پر ځای د تل لپاره پر پایلو او لاسته راوړنو تمرکز او ټینګار وکړئ.

د نوښت او بېلې نظریې درلودلو د وېرې له امله هڅه مه کوئ چې ځان د خلکو په څېر وروسته پاتې پرېږدئ.

پوه شئ چې تاسو باید د یو مشر او رهبر په توګه پر وېره برلاسي شئ او مشرې پر غاړه واخلئ. کله کله دغه کار د نظر اختلاف او د اوبو د جریان خلاف لامبو وهل دي. د خلکو په څېر وروسته پاتې کېدل یو اسانه کار دی، خو نوښت او بدلون ته د اړتیا درلودلو پر مهال همدا له خلکو سره همرنګه اوسېدل او وروسته پاتې والی خطرناک دی او بدې پایلې لري.

پر دې پوه شئ چې تاسو هر هغه څه په واک کې لرئ چې د مشرۍ او رهبرۍ لپاره ورته اړتیا لرئ.

مشري او رهبري یوازې د هغو ګوتو په شمېر کسانو لپاره نه ده چې د دې کار لپاره ذاتي ځانګړتیاوې لري. رهبري یو کسبي کار دی. مانا یې دا ده چې موږ ټول کولای شو غوره او لوی رهبران شو. بله مانا یې دا ده چې زده کړو، چې څه ډول کولای شو په پوره ښتینولۍ او مېړانې له ستونزو سره مخ شو. یوازې په همدې سره کولای شو خپلو هیلو او موخو ته د رسېدو لپاره د اړتیا وړ تګلارې ووینو او لاسته یې راوړو.

# محب: له طالبانو سره تر جوړجاړي وروسته به یو ټولشموله نظام رامنځته شي

د ولسمشر غني د ملي امنیت سلاکار حمدالله محب وایي، له طالبانو سره تر جوړجاړې وروسته، داسې نظام رامنځته کوي چې د طالبانو په ګډون ټولې خواوې پکې شاملې وي.

محب د منځني ختیځ د ستونزو حل په نوم کنفرانس ته چې په بحرین کې جوړ شوی و، وویل، له نوي نظام سره به داسې افغانستان رامنځته شي چې له ځان او ګاونډیو سره سوله کې وي.

هغه زیاته کړې: «افغان حکومت له طالبانو سره خبرې کوي چې سیاسي حللاره پیدا او طالبان په حکومت کې شامل کړي، موږ ممکن په دې وتوانېږو چې یو داسې نظام رامنځته کړو چې ټول افغانان پکې ځان ووینې او د هغه نظام په چوکاټ کې یې د فکرونو استازیتوب وشي چې موږ یې جوړوو».

نوموړي که څه هم د جوړېدونکي نظام بشپړ ځرنګوالی مشخص نه کړ، خو له دې وړاندې دولت په جمهوري نظام او برعکس طالبانو بیا په سوچه اسلامي نظام ټینګار کړی دی.



په ورته وخت کې د طالبانو د قطر دفتر ویاند محمد نعیم ازادي راډیو ته ویلي چې د نظام د څرنګوالي په اړه خبرې له وخته مخکې دي، خو په خبره یې راتلونکی نظام باید په اسلامي او ملي اساساتو ولاړ وي.

په یوه نظام کې د طالبانو او نورو افغانانو د راټولېدو هڅې داسې مهال کېږي چې د امریکا برحاله ولسمشر ډونالډ ټرمپ غواړي چې د افغانستان له تر ټولو اوږدې او ستړې جګړې ټول عسکر وباسي.

دا مهال امریکا په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر څلور نیم زرو ته را کم کړی او ټاکل شوې په راتلونکې جنورۍ میاشته کې دا شمېر دوه نیم زرو ته راټیټ کړي.

له افغانستانه په بېړه د امریکایي سرتېرو وتلو پر افغان دولت سربېره، یو شمېر امریکایي سیاستوال هم اندېښمن کړي دي.

تازه د امریکا د استازو جرګې د ولسمشر ډونالډ ټرمپ ادارې د هغه اقدام مخه نیولې چې غوښتل یې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو شمېر تر ټولو ټیټې کچې ته راکم کړي.

د امریکا د ۲۰۲۱میلادي کال د ملي دفاعي جواز قانون له مخې، د امریکایي پوځیانو د شمېر کمولو پرېکړه، د امریکا د نورو ادارو تصویب ته هم اړتیا لري.

د ټرمپ د ادارې لوی درستیز مارک میلي په دې وروستیو کې وویل، دوی به دوه نیم زرو ته د خپلو سرتېرو له راکمولو وروسته په افغانستان کې دوه لویې پوځي اډې وساتي.

میلي ویلي، په افغانستان کې د دوی د سرتېرو راتلونکی د امریکا د منتخب ولسمشر جوبایډ په پرېکړه پورې اړه لري. بایډن د ټاکنیز کمپاین پر مهال ویلي، که بریالی شي، په افغانستان او عراق کې به دوه نیم دوه نیم زره سرتېري وساتي.

# سولې وزارت: د سولې راوستلو لپاره سیاسي، ولسي او حکومتي ملاتړ موجود دی

تېره ورځ ناوخته په دوحه کې د افغان دولت او طالب مرکچیانو ګډې کمېټې د اجنډا جوړولو پر سر دویمه غونډه وکړه.

د سولې په چارو کې د افغان دولت وزارت که څه هم د دې ناستې د څرنګوالي په اړه څه نه وایي، خو ټینګار کوي، چې افغان دولت د یوې تلپاتې سولې لپاره هڅه کوي.

د یاد وزارت ویانده ناجیه انوري وایي، د سولې راوستلو لپاره سیاسي، ولسي او حکومتي ملاتړ موجود دی. دا په داسې حال ده چې د افغان دولت مرکچیانو مخکې ویلي، وو کله چې اجنډا بشپړه شي، په خبرو کې به پر اوربند بحث د ټولو مسئلو په سر کې وي، هغه څه چې عام افغانان او نړیوال هم پرې ټینګار لري.



خو طالبانو تر اوسه په اجنډا کې د خپلو شاملوونکو غوښتنو او په خبرو کې د لومړیتوبونو په اړه څه نه دي ویلي.

له دې سره هممهاله د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد وړمه ورځ ناوخته په دوحه کې د طالبانو د سیاسي دفتر له مرستیال ملا برادر او د طالبانو د مذاکراتي ډلې مشر شیخ عبدالحکیم او نورو غړو سره کتلي دي.

په قطر کې د طالبانو د سیاسي دفتر ویاند محمد نعیم پر خپل ټویټر لیکلي، چې په دې کتنه کې د طالبانو او واشنګټن ترمنځ د شوې هوکړې پر اهمیت، د طالبانو د پاتې بندیانو پر خوشې کېدو او له تور لېسته د طالبانو د مشرانو غړو د نومونو پر لرې کېدو بحث شوی دی.

د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم پر خپل ټویټر په دوحه کې له طالب لوري سره د کتنې خبره کړې او په کابل کې یې د مصالحې عالي شورا د مشرتابه کمېټې د لومړنۍ غونډې هر کلی کړی او مهمه یې بللې ده.

د خلیلزاد په وینا، دا کمېټه به له طالبانو سره د سولې د هوکړې پر شرایطو، واک وېش او د دایمي او عمومي اوربند پر سر د خبرو په لړ کې د افغانستان دولت لپاره یو صلاحیت لرونکی ارګان وي.

په دوحه کې د افغان دولت او طالبانو د مرکچي پلاو ګډه کمېټه په داسې حال کې د سولې د خبرو د اجندا جوړولو په موخه خپله دویمه ناستې کوي چې، دواړه لوري د تېرې سپټمبر میاشتې په ۱۲مه نېټه خبرو ته کېناستل، خو له نږدې درې میاشتو وروسته تېره چهارشنبه دواړه لوري یوازې د خبرو پر کړنلاره هوکړې ته ورسېدل.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ ۱۷مه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر اوومه | ٦٤١مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۷ | ۱۳ | ۱۳ | ۱۶ | ۱۱ |
| ۲ | -۲ | ۴ | ۲ | ۹ | ۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۱۸ | لمر ختل ۰٦:٤٦ | ماسپښین ۱۱:٤٥ | مازیګر ۰۲:۲٥ | ماښام ۰٤:٤٤ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



د کرونا زیاتېدونکی ناورین؛

**تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر یو میلیون او ۵۳۶ زره او ۸۳۹ ته ورسېد**

۳

## سعودي: امریکا دې له ایران سره د اټومي تړون په اړه له عربي هېوادونو سره مشوره وکړي



د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر فیصل بن فرحان وایي، له ایران سره د یوې دوامدارې هوکړې یوازینۍ لاره دا ده، چې امریکا له ایران سره اټومي تړون ته تر ستنېدو مخکې د خلیج له عربي هېوادونو سره مشوره وکړي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا منتخب ولسمشر جوبایډن تېره اوونۍ وویل چې له ایران سره شوي اټومي تړون ته بېرته ستنېدل سخت کار دی، خو د نوموړي په خبره، دی په دې برخه کې پر خپله خبره ولاړ دی.
په ورته مهال، د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر فرانس پرېس خبري اژانس ته ویلي، هیله لري چې په همدې تړاو به د امریکا راتلونکی حکومت له دوی سره مشوره وکړي .
هغه زیاته کړې، له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون د سیمې د هېوادونو له مشورې پرته وشو چې په پایله کې یې بې اعتمادي لا ډېره شوه.
د یادونې ده چې د امریکا د پخواني ولسمشر باراک اوباما ادارې او نړیوالو قدرتونو له اوږدو مذاکراتو وروسته له ایران سره د اټومي لانجې د حل په موخه تړون لاسلیک کړ، خو د ټرمپ ادارې په یو اړخیزه توګه امریکا له دغه تړونه وایستله او بېرته یې پر ایران سخت اقتصادي بندیزونه ولګول.

## راپورونه: په فرانسه کې د نوي قانون پر ضد پیل شوي لاریونونه په تاوتریخوالي اوښتي

د راپورونو له مخې، د فرانسې په پلازمېنه پاریس کې وروستي لاریونونه په تاوتریخوالي اوښتي دي. چارواکو ویلي، چې د پولیسو او لاریونوالو ترمنځ په نښتو کې شل تنه ټپیان شوي او لسګونه لاریونوال د پولیسو له خوا نیول شوي دي.
د پاریس پولیس وایي، چې دا لاریونونه هغه مهال په تاوتریخوالي واوښتل، کله چې پارېدلو اعتراض کوونکو موټرو ته اور واچوه او پر پولیسو یې د ډبرو او لرګیو ګزارونه وکړل.
د راپورونو له مخې، دا دویم ځل دی چې په پاریس کې زرګونه کسان د اونۍ په وروستیو کې د یوه نوي امنیتي قانون پر ضد سړکونو ته راوځي.
د نوي قانون له مخې رسنۍ اجازه نه لري چې د پولیسو څېرې وښیي.
خو لاریونوال بیا وایي چې پولیس به دغه حالته په ګټې اخیستنې خپل ناوړه کارونه ډېر کړي او له حکومته د دغه قانون د لغوه کېدو غوښتنه کوي او ټینګار کوي، که یې غوښتنې ونه منل شي، خپلو لاریونونو ته به دوام ورکړي. بل خوا د فرانسې ولسمشر امانویل مکرون د ډسمبر په ۴مه په یوه مرکه کې ومنله چې ځینو پولیسو ناوړه کړنې کړي چې په خبره یې، باید سزا وویني.


## ادارۀ زون پایتخت: کار عملی پروژۀ آبرسانی شهر جدید کابل آغاز شد



ادارۀ انکشاف زون پایتخت، از آغاز کار عملی پروژۀ آبرسانی شهر جدید کابل، که بیش از ۲٤ میلیون دالر امریکایی هزینه بر می دارد، خبر داد.
قرارداد این پروژه، دیروز ۱٦ قوس، میان اداره انکشاف زون پایتخت و دفتر سازمان ملل برای تطبیق پروژه در افغانستان (UNOPS) به امضا رسیده است.
در خبرنامه آمده است که شهر جدید کابل، دارای مساحت ۷۴۰ کیلومتر مربع می باشد که ساحات ده سبز و قسمت هایی از شکردره، قره باغ، کوهدامن، کلکان و باریک آب را در بر می گیرد؛ این شهر گنجایش اعظمی ۵۰۰ هزار واحد مسکونی برای ۱.۵ تا ۳ میلیون نفوس را دارا میباشد که در جریان تطبیق آن، حدود ۵۰۰ هزار تا یک میلیون فرصت شغلی ایجاد خواهد شد.
محبوب الحق عطاء سخنگوی ادارۀ انکشاف زون پایتخت گفت که این پروژه از ساحه پلچرخی تا شهرجدید کابل را شامل میشود و بیش از ۲٤ میلیون دالر امریکایی هزینه بر می دارد.
وی گفت که آبرسانی برای شهر جدید کابل، یکی از مهمترین پروژه هایی میباشد که از کمک موسسه جایکای جاپان تمویل میگردد و این پروژه، در مدت ۱٦ ماه تکمیل و به بهره برداری سپرده خواهد شد.
به نقل از خبرنامه؛ این پروژه به طول ۱۵.۵ کیلومتر شامل دو حلقه چاه آب، ذخیره آب، شبکه توزیع آب، پایپ و پمپ ستیشن دارای سه پمپ هریک دارای ظرفیت ۱.۸ مترمکعب در یک دقیقه، میباشد و جمعاً ۵.۴ متر مکعب آب را در فی دقیقه از ساحه پل چرخی به شهر جدید کابل انتقال خواهد داد.


## ژوند

### هېل او روغتیایي ګټې یې



هېل په پخلي کې له مهمو مساله جاتو څخه شمېرل کېږي، خوړو ته ځانګړې خوند ورکوي او پر دې سربېره د انسان د بدن لپاره ځینې روغتیایي ګټې هم لري. د روغتیایي چارو متخصصه ډاکتره امال فتحي وایي: هیل ځینې روغتیایي توکي لري، چې د انسان بدن ورته اړتیا لري، هېل کې پروټین، اوبه، کلسیم، فاسفورس او ویټامین B او C شته. د هېل ځینې ځانګړنې په دې ډول دي: د انسان په بدن کې راټول شوي زهري مواد له منځه وړي، هیل مو ادرار زیاتوي او له بدن څخه مو اضافه مالګه او زهري مواد وباسي، د کومو کسانو چې خوا بدېږي یا یې زړه خرابیږي، د هېل کارول ورته ګټه لري، هاضمه مو ښه کوي، د قبضیت له منځه وړلو لپاره تر ټولو اسانه او غوره درمل دی او د ویښتو د غوټه کېدو مخه نیسي. یا په بله مانا، کولسټرول تنظیموي، فشار نورمال ساتي او د لوړېدو مخه یې نیسي، د سرطان مخنیوی کوي، په بدن کې اضافه کالري له منځه وړي او په پایله کې مو له ډېر وزن څخه خلاصوي.

### اوپو دوه نوي موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کوي





اوپو کمپنۍ تاییده کړې چې نږدې راتلونکې کې به د رینو لړۍ دوه نوي څېرک موبایلونه خرڅلاو ته وړاندې کړي. دغه څېرک موبایلونه اوپو رینو۵ او اوپو رینو۵ پرو نومول شوي دي او د ډسمبر په ۱۰مه به په رسمي توګه کاروونکو ته معرفي او خرڅلاو ته د وړاندې کېدو نېټه به یې په ډاګه شي. له دې سربېره، اوپو کمپنۍ همدا راز تاییده کړې چې دغه څېرک موبایلونه به شاتنۍ برخه کې څلور کامرې ولري او اصلي کامره به یې ٦۴ مېګاپکسله وي. د دغو څېرکو موبایلونو بله غوره ځانګړنه دا ده چې مخپاڼه یې له ۹۰ هرتز ریفرش ریټ څخه هم ملاتړ کوي.
د اوپو رینو۵ ځانګړنې
دغه څېرک موبایل به ٦,۴۳ انچه فول ایچ ډي+ امولېډ ډوله مخپاڼه او ۱۰۸۰، ۲۴۰۰ پکسل ریزلوشن ولري. اوپو رینو۵ کې د کوالکام کمپنۍ سنپ ډراګن۷٦٥جي ډوله پروسېسر او اډرینو٦۲۰ جي پي یو ورکړل شوي دی. شاتنۍ برخه کې څلور کامرې لري چې ٦۴ مېګاپکسله اصلي کامره، ۸ مېګاپکسله الټراوایډ اینګل، ۲ مېګاپکسله مکرو او ۲ مېګاپکسله مونو لېنز په کې شامل دي.

عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بتوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ ستېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af
1515

